رسول الله صلى الله عليه وسلم به په يوې پيمانې (صاع) غسل کاوه نو تر پنځو لپو پورې به يې غسل کاوه او په يوه لپه به يې اودس کاوه

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به په يوې پيمانې (صاع) غسل کاوه نو تر پنځو لپو پورې به يې غسل کاوه او په يوه لپه به يې اودس کاوه.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به له جنابت څخه په پيمانه غسل کاوه نو تر پنځو لپو پورې به يې اوبه کارولې او اودس به يې په ورغوي سره کاوه: او (مد) يعنې پيمانه څلور لپې کيږي: د يو برابر انسان لپه چې دواړه ورغوي سره يو ځای کړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8387